# النصر

**مدنی سورة دی ۳ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ١

**( ای پیغمبره!)کله چې د الله تعالی مرسته راشی او د ( مکې معظمې) لویه فتح مو په برخه شی.**

وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ٢

**او گورې به چې خلک( په مینه او اخلاص) ډلې ډلې د الله تعالی په دین( اسلام) مشرف کیږی( او ټوله عربی جزیره د اسلام په نور روښانه شی).**

فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ٣

**(نو ورسره ستا د بعثت ستر هدف ته رسیږی او همدا به ستا د مبارک ژوند د پای ته رسیدو نښه وی) بیا له ثنا او پاکۍ سره د خپل رب تسبیح وایه، او( د خپل ځان او خپل امت لپاره) ترې بښنه وغواړه، بیشکه چې الله تعالی توبه قبلوونکی ذات دی( د همدې مبارک آیت د نزول نه وروسته، پیغمبر صلی الله علیه و سلم د خپل مبارک ژوند په وروستیو اویاو ورځو کې، د هر لمانځه په رکوع او سجده کې دعا کوله: سبحانک اللهم و بحمدک اللهم اغفر لی).**

**« تمت سورة النصر بفضل الله و رحمته»**

**===================**